# پښتون رساله جرمني
## لومړۍ ګڼه 1982 م کال


# پښتون

بنسټ ایښودونکی : باچاخان

ګڼه (۱) کال ۱۹۸۲ ع میاشت مارچ


## باچاخان څوند سیاسي پلار

باچاخان په ۱۸۸۵ ع کال خواوشا
د چارسدې د اتمانزیو په کلي
کښې زیږیدلی دی د ده د پلار نوم
بهرام خان دی دوی د پښتنو د
یوسفزی په قام پورې تعلق لری دوی
دوه ورونه او یوه خور وه .

د ده د مشر ورور نوم عبد الجبار وو چې
وروسته بیا په ډاکټر خان صیب مشهور شو .
د باچا خان خپل نوم عبد الغفار خان
دی چې اولس ورته فخر افغان هم وائی
باچا خان ښوونځی په پیښور کښې ویلی
دی دوی د هغه وخت د لسم ټولګی پورې
زده کړه کړې ده .



هغه عادتا و خصلتا چې قدرتد ماشوم
والی څخه ده تېر کړی و هغه د غریبو او
بې وزلو خلکو سره مرسته ناسته ولاړه
وه .

باچا خان د وطن د ازادۍ چیغه د انګریز پر ضد
جګه کړه . باچا خان خپل چاپیریال ښه تر نظر
لاندې ونیو . لمړۍ ئې خپله ټولنه مطالعه

( پاتې څلورم مخ )

# واخان

## ایا روسانو د واخان په سیمه قبضه کړې ده؟

د واخان سیمه چې د درې سوه کیلو متره اوږده او د شل څخه تر شپېته کیلو متره پورې پلنوالی لري او د یوې غټې ګوتې په شان ښکاریږي چې د چین سره د افغانستان ګډه پوله جوړوي د دې سیمې د ستراتیژۍ له پلوه ډېره مهمه ده.

۱۹۸۱ ع کال د جون د میاشتې په شپاړسمه نېټه د کارمل ګوډاګي تش په نامه حکومت او روسیانو ترمنځ د ګډو پولو ترون وشو ویل کیږي چې په دې ترون کښې شورویانو د واخان سیمه خپله ګرزول غواړي.

د واخان سیمه د ۱۸۷۳ ع کال او د ۱۸۹۴ ع کال په ترونونو کښې چې د انګلستان او روسې او افغانستان په مینځ کښې شوي دي د افغانستان برخه ګڼل شوې ده.

څرنګه چې د کارمل حکومت یو وارد شوی غیر قانوني / غیر نماینده حکومت دی او زمونږ اولس په هیڅ وخت کښې دا خپل حکومت نه دی ګڼلی نو د اې ول ترونونه زمونږ د اولس لپاره هیڅ اعتبار نلري او غیر قانوني ئې ګڼو او د واخان سیمه د افغانستان نه بېلېدونکې برخه ده او وي به.

# ولي خان وویل

که چیرې جنرال ضیاالحق سیاسي ګوندونو ته نوره هم اجازه ورنکړي نو دا به د پتو فعالیتونو او ورانکاریو د پاره لاره اواره کړي.

# لویه جرګه

د پښتنو په تاریخ کښې لویه جرګه تر ټولو ستر مقام او د دولت (ستیټ) د صلاحیت څخه جګې پرېکړې کوي نو له دې امله د پښتنو ټولنیز اولسي ګوند د افغاني خاورې څخه د شورویانو وتلو لپاره د ایوازېنۍ لارې ګڼي او په غیر د سید ه ګاوند یو څخه نورو ټولو هیوادونو ته ئې د دې پیشنهاد (تجویز) وړاندې کړېدې چې په خپل هیواد کښې د دې ته اجازه ورکړي چې هلته افغانان خپله لویه جرګه جوړه کړي او خپل سرنوشت په خپله وټاکي او د لوئې جرګې د پرېکړو د بین المللي تضمین وشي.

# ارباب سکندر خان خلیل

له ډېرې درد ناکې خبرې سره راورو چې په ستر پښتون سیاستمدار او فیلسوف ارباب سکندر خان خلیل باندې چې د قام او وطن د ازادۍ په لاره کښې نه هېرېدونکې خدمتونه کړي دي په ۱۹۸۲/۳/۷ نېټه په پېښاور کښې د چکروهلو په وخت کښې ډزې وشوې او شهید شو. قاتل نیول شوی خو هویت ئې لا تر اوسه څرګند شوی نه دی. مونږ دې غوښتنه کوو چې ژر تر ژره په دې قتل کښې لاسلرونکي په سزا ورسیږي.

خپرونکی: د پښتنو ټولنیز اولسي ګوند
Pashtoons Social Democratic Party (PSDP)

د ګوند د خپرونو د جرګې د مشر پته
Ali Khan M a s o u d
Goebenstr.11,3000 Hannover 1
W.Germany,Tel.0511/662215

# د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ ټولنې له خوا

توره دې لا لا وهي مړې دې عبد الله

د افغانستان سياسي وضعه د روسيانو د يرغل راپدې خوا د ډيرو سختو ردونو او سرو وينو د سيلاب په حالت کښې ده.

چې د اوس يوازې د افغانستان او يا د ګاونډيو هيوادو د فکر نه بلکه يو مهم بين المللي مسله ګرځيدلې ده.

په داخلي سطحه د افغانستان داخلي اکثريتي قوم (پښتانه) سره د نورو اقليتونو بيا د خپل هيواد د دفاع په ازميښت کښې اچول شوي دي او په بين المللي سطحه روسانو په خصوصي ډول د ټولې نړۍ امن په خطر کښې اچولی دی.

هميشه د استعمارچيانو سره د ډغرو په وخت کښې چې زمونږ اولسي کوم برياليتونه لاس ته راوړي دي د غه د تاريخ پانو ساتلي دي ولې د بد مرغه ډير ځلي د اسي هم شوي دي چې د ګټې څخه وروسته سياسي واګې د اسي خلکو په لاس کښې اخستلې دي چې د وي يا خو د دغه شړل شو استعمارچيانو غير مستقيم نمايندګان وو او يا خو يو نوي استعمار چې ته د راتګ لاره برابرونکي وو.

سره د دې چې د غسې باداړانو د ازادۍ په مبارزه کښې ډيره کوچنۍ برخه هم نه درلوده منيوا ځې د ابلکه د غي واکدارانو په افغانستان کښې يا خو هميشه د اقليت نمايندګي کوله او يا خو د خپلې کورنۍ.

د افغانستان قطعي اکثريت هميشه د پښو لاندې شوي او د دوي حقوق غصب شوي دي په داسي وخت کښې يو ځل بيا د داسي ډول ناوړه عملونو د تکرار څخه روانه ده ميوي خوا د روسانو او د هغوي د

(پاتې څلورم مخ)

# پښتنو ليکوالو ټولنه ئې وړاندې کوي

ملګرو تش په لوګيدو ونه شوه
ځې چې لمبه شو د اخپل ځان وسوزو
د نوي تيغ د توکيدو د پاره
دا زوړ خوړلی ګلستان وسوزو

(اجمل خټک)

چې خازي شني مې په قبر وي ولاړې
که غلام مړوم راځي توکړې پرې لاړې
چې قطرې قطرې مې پوځ د دښمن نکړ
مورې ماپسې په کوم مخ به ته جاړې
چې پخپلو وينو نه يم لمبيد لی
پما مه پليتوي د جمات غاړې
يا به د ابي ننګه ملک باغ عدن کړم
يا به کړم د پښتنو کوڅې ويجاړې

(غني خان)

لکه غيرت چې د پښتون سره دی
هسې ژوندون هم د پاڅون سره دی
په ځان ځانۍ سره څه کار نه کيږي
بري هميشه د پيوستون سره دی

(مبارز ساپي)

## پاچاخان

کړه او د ی نتجې ته ورسید چې باید د پښتون
په نوم د وطن د ازادۍ چیفه د انګریز
پرضد پورته کړی . د ا ځکه چې پاچا
خان د پښتنو تاریخ باندې ښه اګاه وو .
د مثال په ډول یو انګریز کوم وخت چې
هند د برطانیو یا نو ترمنګولو
لاندې وو د تیمورشاه سره د خبرې کولو
لپاره پیښور ته راغی . کله چې ئې د
تیمورشاه سره خبرې وکړې نو تیمورشاه
په پښتو ژبه نه پوهید و نو انګریز چې کله ځی
نو خپل رپوټ کښې داسې لیکی .

"چې افغانی سرداران د خپل قام نه لا
ډیر لیری دی . ځکه او لدا چې د هغوی
په ژبه نه پوهیږی نو مونږ د غلیری والی ځخه
ښه ګټه اخستلی شو ."
نو پاچاخان ته دا معلومه شوه چې قامی ژبه
د قام په ژوند کښې او ژوندی ساتلو کښې ډیر
لوړ ځای لری تر څو پورې چې ژبه قام سره نه
وی د غه قام نه ډیر ژر مری .
د پاچاخان په نظر کښې صرف ژبه نه و مبلکې
ژبه اقتصاد د ی سیاست دی علم دی کلچر
او بیداری د ه .
ځکه نو د پاچاخان وینا د ه .
( ( چې پښتو وا یه / پښتو لیکه
پښتو لوله ) )
هم پاچاخان اولنی افغان دی چې د
پښتو ژبې ته ئې لوی ځای ملر نه کړی د ه د دوی
د سیاسی تحریک رسمی ژبه پښتو وه تول
لیک لوست په پښتو ژبه وو او بل خوا پاچا
خان د پښتو ژبې تاریخی بنیاد کیښود او د
لمړی ځل لپاره ئې په پښتو ژبه کښې رساله
جاری کړله چې نوم ( ( پښتون ) )
وو د ی معلومیږی چې پاچاخان پښتو
ژبې ته په کلکه پاملرنه کوله .
( نور بیا )

## پښتنو او بلوڅو

مزدورانو له خوا د غه نو موړي قام د ضد
روسی افکار و په تور بمباریزي . او د بلې
خوا د روسیانو په ضد خود دوي
نه د قربانی ګډ وري جوړول کیږي ولې په
سرئی بیا هغه زوړ د ضد پښتنی افکار و
خاوند نا ست دي د پښتنو یو مشهور متل
دي .
( ( توره د ي لا لا و هی / مړي د ي عبد الله ) )
ځمونږ اولس باید ه دي چې د سو له
ایزي لا رې سر بیره د روسی په ضد د خپل
هیواد ازادۍ په غرغړو جنګیږي . ځو
د چا د د کانداری د بازار د تود ولو لپاره نه
مونږ په ډ ګرا علان وو چې ځمونږ د اولس په
نوم نا ور متجارت کوونکی هم همدومره ځمونږ
د ښمنان دي لکه څومره چې استعمار چیان دی .
د پښتنو او بلوڅو د ملی ازادۍ تولنه د ازادۍ
په د ی مبارزه کښې ځان د خپل اولس سره
یوګنی او باور لری چې ځمونږ ننګیالی اولس
به ځان په واقعی توګه ازاد کړی او وا ئبه
ئی بیا خپل لاس کښې ونیسی .

**لا به یو کیږ و ګنی ورکیږ و**
**(ولی خان)**

# په جرمني کښې " پښتون رسالې" د چاپ په هکله یادونه:

په کال 1928ع د مې په میاشت کې باچا خان بابا "پښتون رساله" جاري کړه، چې کله به اووه ورځنۍ، کله لس ورځنۍ، کله میاشتېنۍ او کله به درې میاشتنۍ خپریدله.
په 1930ع کې چې باچا خان بابا بندي شو، نو پښتون رساله هم بنده شوه، چې بیا د1931ع کال د مې په میاشت کې ښاغلي عبدالخالق خان خلیق ته حواله شوه .
کله چې رساله په ډسمبر کې چاپ شوه، نو بیا بنده شوه ، په کال 1938 ع کې یو ځل بیاجاري شوه او په1941ع کې بنده شوه، په 1945 کې بیا خپره شوه او د پاکستان دجوړیدو سره سم بیا بنده شوه، چې دا لړۍ (سلسله) همداسې وغزېده

پدې ترڅ کې د « پښتون رسالې» دبنسټ ایښودونکي (باني) فخرافغان باچا خان بابا په غوښتنه او دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د مشر ډاکترکبیر ستوري په لارښونه د پښتون سوشل دیموکراټیک پارټۍPSDP په المان کې د پښتون رسالې خپرولو ته ملا وتړله اوپه 1981 ع کال کې ئې یوه ځانګړې ګڼه په الماني ژبه هم چاپ او خپره کړه.
په 1982 ع کال دمارچ په میاشت کې ئې لمړنۍ ګڼه ، چې اخباري بڼه ئې لرله چاپ اوتیته (خپره) شوه.
د 1995 ع کال تر جنورۍ ئې تر یولسمې ګڼې پورې چاپ او خپرې شوې
درنښت
نصیر ستوری